AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مومند محمدي اخګر
۲۰۲۰/۰۳/۱۱

# که انسان د انسان په څېر ژوند وکړي

د انسان او په ټوله کې د ژوندیو موجوداتو د پیدایښت په اړه اوس هغه نظریه چې وايي دا موجود په تصادفي ډول پیدا شوی دی تر ډېره حده مردوده شمېرل کيږي او زیاتره علمي څېړنې پر دې ټينګار کوي چې د مخلوقاتو د رامنځته کېدلو تر شا د کوم چا لاس شته.
همدارنګه په دې وروستیو کې امریکایي پوه ډاکټر الیس سېلور (Dr. Ellis Silver) د انسان د بدن پر فزیولوژۍ له یو لړ څېړنو وروسته دا نظریه وړاندې کړه چې ګواکې انسانان د ځمکې اصلي اوسېدونکي نه دي بلکې له کومې بلې سیارې څخه ځمکې ته راغلي او یا راوستل شوي دي.
بېلابېل علمی نظریات موږ ژور فکر کولو ته هڅوي، په تېره بیا چې د تاریخ په اوږدو کې په نړۍ کې پر انساني ټولنو کوم ناورینونه راغلي دي نو انسانان يې لا هم زیات اړویستلي دي چې په بېلابېلو ډګرونو کې خپلې څېړنې او اندونه لا ژور او پراخ کړي، دا کارونه د دې لپاره کيږي تر څو ومومندل شي چې انسان څه ډول کولی شي د نړۍ پر مخ مصوون، ډاډمن او خوښ ژوند وکړي. همدارنګه تل هڅه کيږي چې د انسان ژوند د اسانتیا په لور وړاندې ولاړ شي او له کړاوونو وژغورل شي چې په ترڅ کې يې د دوی تر ټولو مهمه لاسته راوړنه د وخت ښکار یا لنډول دي، دوی هڅه کوي چې په هر څومره چټک ډول خپلو موخو ته ځانونه ورسوي.
په نړۍ کې د اوسېدلو پر مهال د زړښت، د بدن د غړو کمځواکه کېدل، مړاوي کېدل، د هغوی د ښکلا له منځه تلل او بالاخره مړینه هم یو پر بل پسې د انسان لپاره ناورینونه دي چې د اړوندو څانګو پوهان يې د مقابلې لپاره هڅې کوي.
مرګ د انسان لپاره هغه ترخه پدیده ده چې تریخوالی يې د انسان د تل لپاره ژوندي پاتې کېدلو د فکر له امله رابرسېره شوی؛ دا فکر هم یوازې پر انسان پورې مختص دی چې د هغې نړۍ پر مخ ژوند کوي چې فنا کېدل پکې یو معمول او رواج دی، نو د ښاغلي ډاکتر سېلور نظر د عقلاني منطق له اړخه هم تر ډېره حده د تایید او منلو وړ دی، هسې هم که د دیني متونو له انده وګورو نو د انسان اصلي ټاټوبی دا نړۍ نه ده بلکې د یوه بل ابدي یا تلپاتې ژوند په لور روان دی. جبران خلیل هم په دې اند دی چې انسان دې نړۍ ته د دې لپاره راغلی دی تر څو ژوند زده کړي او بیا په ابدي ژوند کې بریالی شي.
په دې مانا چې د انسان د ژوند لپاره تر ټولو مناسب چاپېریال هغه دی چې هلته تلپاتې، خوندي، ډاډمن او خوشاله ژوند ولري کوم چې له هر ډول کړاوونو او ناورینونو څخه خوندي وي. دا فکر په انسانانو کې د هنر او ښکلا پرستۍ، د تجمل او تجلل څخه د ډک ژوند د ذوق درلودلو له ځانګړنې هم ثابتيږي.
د نړۍ زیاتره ادیان او زاړه متون هم دا وايي چې انسان له بل ځای څخه نړۍ ته راغلی دی؛ ځینې پخواني ختیځ او لویدیځ ادیان په دې اند دي چې انسان د خدایانو اولاده ده چې په اسمانونو کې يې ژوند کاوه او بیا يې پر نړۍ واکمني ټینګه کړې ده، دا ډول خبرې د چیني، جاپاني او لرغونو هندي ادیانو په کتابونو او کتیبو کې شته چې له بل لوري يې د لرغوني یونان مجسمې، د سویلي امریکا د پخوانیو تمدنونو نښانې او د شمالي افریکا په شګو کې پخواني ښخ شوي تهذیبونه په ګوته کوي، چې آن کله خو ځینو انسانانو د دې مفکورې د اغېز له مخې پخپله د خدایۍ او ربوبیت دعوې هم کړي دي.
پر دې سربېره بیا ابراهیمي ادیان دا په ګوته کوي چې انسان د هغه پلار اولاده ده چې له اسمان یا جنت څخه د خدای په امر ځمکې ته راغلی و، دا خبره بیا د اسلام د مبین دین په مبارکو نصوصو او ارشاداتو کې په ډېر واضح ډول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

شوې ده، هغه داسې چې د انسانانو پلار ادم علیه السلام او د هغې مېرمنې بي بي حوا رضي الله عنها په جنت کې د خدای په امر په خوښۍ ژوند کاوه، خو پر دوی د خدای له لوري د یو ډول مېوې د خوړلو بندیز لګول شوی و چې له امله یې شیطان د دوی په زړونو کې د دې مېوې د څکلو وسوسه راپیدا کړه او چې کله یې دا کار وکړ نو د خدای په امر دواړه ځمکې ته راښکته کړل شول او د دغه ځای واکمني ورته وسپارل شوه چې د یوې مالومې نېټې وروسته به بېرته د ابدي ژوند په لور ګرځي. دلته د خلیل جبران خبره ډېره ښه لګي که ووایو چې دلته د ابدي ژوند د زده کړې د تمرین لپاره راولېږل شول.

که د نړۍ پر مخ نور ژوندي موجودات وګورو هر یو یې د خپل فطرت او شعور سره سم عادي ژوند پر مخ وړي، مچۍ له ازله هماغه ډول ټمبکې جوړوي او له ښکلو ګلونو ګبین راټولوي، غواګانې هماغه واښه خوري، مېږیان هم د لومړۍ ورځې په څېر کتارونه کتارونه روان وي، په ځنګله کې هم له لومړۍ ورځې هوسۍ واښه خوري، غوړونه بوخ ونیسي شاوخوا وګوري، زمری غلی غلی د دنګو ډیلو ترمنځ ورشي ناڅاپه پرې ورټوپ کړي، هوسۍ منډه واخلي او زمری ورپسې وي؛ دا لوبه هم د دوی د پیدایښت له هماغې لومړۍ ورځې روانه ده. ونې او بوټي هم داسې دي زرغونه شي، لوی شي، وچ شي دانې تویې کړي، هغه بیا رازرغونې شی او... نو په دې مانا چې د نوموړو موجوداتو د ژوند مسیر بې له کوم تغیره په هماغه یوه دایره کې روان دی او له کومو نوښتونو سره نه دی مخ شوی. یوازې یو موجود چې د دوی د ژوند د طبیعي مسیر د ګډوډۍ سبب کیږي انسان دی. پر دې سربېره دا موجودات د تلپاتې ژوندانه فکر نه لري او نه هم په دې هیله ژوند کوي، نو ویلی شو چې د ځمکې مخ د دوی د ژوند لپاره په بشپړ ډول مناسب چاپېریال دی او دوی د ځمکې اصلي اوسېدونکي دي.

خو لکه څرنګه چې وویل شول انسان نړۍ ته له بل ځایه راغلی دی نو په دې هڅه کې دی چې د هماغه پخواني مسکن په څېر پر ځمکه هم د ژوند کولو اسباب او وسایل چمتو کړي چې په ترڅ کې یې په نړۍ کې هم د مثبت او هم د منفي بدلون سبب ګرځي چې دا وېره هم ترې کیدلی شي تر څو هم ځان او هم نړۍ د تباهۍ کندې ته وروغورځوي نو د دې لپاره یوه داسې منظم چوکاټ ته اړتیا لري چې د هغې په رڼا کې ژوند پر مخ بوزي، یانې د ژوند د زده کړې چوکاټ، د انسان په څېر د ژوند کولو چوکاټ تر څو چې کله بېرته خپل ابدي ژوند ته ستون شي هم نو د انسان په څېر ژوند وکړای شي.

په همدې منظور انسان اړتیا درلودله چې د داسې ژوند کولو لپاره څوک لارښوونه ورته وکړي او دا چاره ادیانو پر غاړه واخیستله. نو د نړۍ په بهیر کې چې کومو انسانانو د انساني ژوند کولو لارښوونې منلې دي او یا یې منې پر نړۍ د اوسېدلو پر مهال له ناورینونو او کړاوونو څخه ساتل شوي دي خو کومو انسانانو چې دې لارښوونو ته یې شا کړې ده، هڅه یې کړې ده چې د ځمکې د نورو موجوداتو طبعیت خپل کړي او د حرص له مخې یې د هر هغه څه د لاسته راوړلو هاند کړی چې د دوی نفسونه یې غواړي نو له یوه لوري یې ځانونو او له بل لوري یې ټولې نړۍ ته هم د تاریخ په اوږدو کې څو ځله زیان رسولی دی.

دا ناورینونه یا د طبیعي افتونو، وباګانو او ناروغیو په جامه کې راڅرګند شوي دي او یا هم د انسانانو ترمنځ د سترو جګړو په څېره کې، پر دې سربېره د ژوند کوچني کړاوونه او مشکلات هم د دې ناورینونو یوه برخه بللی شو چې که په اړه یې علمي پلټنې وشي نو د ټولو سبب انسانان دي.

د دې لپاره چې د نړۍ پرمخ مو د ژوند روان بهیر له ګواښ سره نه وي مخ کړی نو اړینه ده تر څو داسې اندونه خپل کړو چې وکولی شو د نړۍ پرمخ هم پخپله او هم د نورو لپاره د مصوون، ډاډمن او خوشاله ژوند امکانات برابر کړای شو.

په تاریخ کې موږ د هغو انسانانو بېلګې وینو چې د نړۍ پر مخ یې انساني ژوند کړی دی نو هم یې خپل ځان او هم یې چاپېریال خوندي کړی دی، د دې تر ټولو ښه مثال د اسلام ستر پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم و، که د نوموړي ژوند او اند مطالعه کړو او یوه ټولنه په نظر کې ونیسو چې یادې لارښوونې عملي کړي کومې چې زموږ د باور له مخې د الله تعالی له لوري یې ښوونه ورته شوې ده نو په پوره جرات سره ویلی شم چې نوموړې ټولنه به له هر ډول کړاوونو په امان وي او د مصوون، ډاډمن او خوشاله ژوند خاوندان به وي. د دې ژوند یوه بېلګه وړاندې کوم، هغه دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند پر مهال مدینې منورې ته څو تنه طبیبان راغلل تر څو په هغه ښار کې د ناروغانو علاج وکړي، دوی تر څنډه کېناستل خو هیڅ ناروغ یې پیدا نه کړ. دا له دې امله وه چې هلته د نړۍ پر مخ د انساني ژوند کولو ښوونکی و کوم چې صحابه وو یې د هغه لارښوونې منلې وې او په هماغه طریقه یې ژوند پرمخ بېولو.

ښایي ځینې کسان پر اسلام باور زما شخصي اند وبولي او دا خبرې بابېزه وبولي خو دوی دې هم هڅه وکړي که چېرې یې زموږ باور خوښ نه وي نو داسې لاره دې راپیدا کړي چې په ترڅ کې یې د نړۍ پرمخ د ژوند بهیر خوندي شي او انسانان د خوندي، ډاډمن او خوشاله ژوند خاوندان شي، موخه مې دا ده چې لږ تر لږه دې هڅه نه کوي تر څو ځانونه د نړۍ پرمخ د نورو ګرځېدونکو موجوداتو پر طبیعت برابر کړي ځکه چې هغه طبیعت یوازې د هماغوی لپاره ځانګړی شوی دی او که انسان یې د خپلېدلو هڅه وکړي نو ډېرې خطرناکې پایلې درلودلی شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لکه چې وينو په دې وروستيو کې نړۍ د کرونا ويروس د وبا له لوی ناورين څخه کړېږي او د ټولو انسانانو ژوند يې له ګواښ سره مخ کړی دی، دا هم د هغو کسانو د کړنو پايله ده چې د نړۍ پرمخ يې د وړ انساني ژوند له بړستنې پښې اوږدې کړې وې، د ځېرونکو ځناورو په څېر يې د هغو ژوو غوښې خوړلې وې چې په زياترو دينې لارښوونو او يا انساني ژوند ته د رابلونکو په ښوونو کې منع شوې او ننني علم يې خوړل خطرناک بللي وو. خو اوس هم نه دی ناوخت که موږ يادې لارښوونې په ښه ډول عملي کړو نو له دې ناورين څخه ژغورل کيدلی شو، لکه چې راته وايي:
((پاکوالی د ايمان برخه ده، هلته چې وبا ګډه وي نه دې څوک ورځي او نه دې هم څوک ترېنه ځي، مه چا ته زيان رسوه او مه څوک پرېږده چې زيان درته ورسوي)).


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ